## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**12حمل _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان | صفحه


۷۶ پناهجو از جمله افغان‌ها از قبرس به فرانسه انتقال داده شدند ---------- 1

د سختو ستونزو سربېره ښوونځی د سرپناه نه لرونکو کډوالو ماشومانو لپاره یو چانس دی ---------- 3

نږدې اتیا افغان او سوریایي کډوال له قبرس څخه فرانسې ته انتقال شوي ---------- 7

دادگاه حقوق بشر اروپا ایتالیا را به دلیل «رفتار ناشایسته» با مهاجران محکوم کرد ---------- 9

یران ۲۰ زندانی دیگر افغان را به افغانستان تحویل داد ---------- 10


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## ۷۶ پناهجو از جمله افغان‌ها از قبرس به فرانسه انتقال داده شدند

مهاجرنیوز



**روز پنجشنبه در چارچوب برنامه سهمیه بندی مهاجران در اتحادیه اروپا، ۷۶ پناهجو از قبرس به فرانسه انتقال داده شدند. در مجموع بیش از ۲۰۰ پناهجو قبرس را به مقصد فرانسه، آلمان، بلغاریا و رومانیا ترک کردند.**

**وزارت امور خارجه قبرس با انتشار خبرنامه‌ای گفت که «پذیرفتن [این انتقال] از سوی فرانسه یک حمایت عملی و اقدامی همبستگی جویانه» برای قبرس محسوب می‌شود.**

**به گفته این وزارت، بیشتر مهاجران انتقال داده شده سوری و افغان بودند و انتقال آن‌ها به منظور حمایت «از آن کشورهای عضو اتحادیه اروپا صورت گرفته که با چالش فزاینده مهاجران روبرو هستند«.**

در همین زمینه :اسکان مجدد: فرانسه ۴۰۰ پناهنده را از یونان می‌پذیرد

در انتقال مهاجران یاد شده آژانس پناهندگی اروپا، سازمان بین المللی مهاجرت و فرانسه نقش داشته‌اند. همزمان ۱۳۴ مهاجر دیگر نیز به آلمان، بلغاریا و رومانیا منتقل شدند.

قبرس به دلیل سیستم دوگانه اداری اش که بخشی از آن متعلق به اتحادیه اروپا و بخش دیگری از آن متعلق به ترکیه است مورد توجه مهاجرانی است که می‌خواهند به اروپا بیایند.




قبرس به دلیل سیستم دوگانه اداری اش که بخشی از آن متعلق به اتحادیه اروپا و بخش دیگری از آن متعلق به ترکیه است مورد توجه مهاجرانی است که می‌خواهند به اروپا بیایند. تصویر: مهاجر نیوز

بازبینی سیستم پناهندگی اتحادیه اروپا

حدود ۵ درصد از ۹۱۵ هزار جمعیت قبرس پناهجویان است و این رقم به گفته مقام‌های قبرس در اتحادیه اروپا یک ریکارد محسوب می‌شود. ماهانه حدود ۱۵۰۰ دوسیه پناهندگی در در قبرس ثبت می‌شود.

در همین زمینه :قبرس: نگرانی ها به خاطر شمار رو به افزایش مهاجران

وضعیت یاد شده روی قبرس سنگینی می‌کند و این کشور همگام با مالتا، یونان و ایتالیا فشار مهاجران را بیش از اندازه توصیف می‌کنند. به همین دلیل بود که اتحادیه اروپا در سال ۲۰۲۰ پیمان مهاجرت و پناهندگی را به اجرا گذاشت تا کشورهای عضو مطابق یک سهمیه بندی مهاجران را بپذیرند. اما پیمان یاد شده تا کنون موثریت چندانی نداشته است.

همین اکنون ۲۷ کشور اتحادیه اروپا در حال مذاکره هستند تا شرایط سیستم پناهندگی را بازبینی کنند. روز سه شنبه پارلمان اروپا، اصل همبستگی میان کشورهای عضو را به تصویب رساند .

## د سختو ستونزو سربېره ښوونځی د سرپناه نه لرونکو کډوالو ماشومانو لپاره یو چانس دی

مهاجرنیوز



په فرانسه کې زدکړې جبري دي او ټول والدین اړ دي چې خپل ماشومان ښوونځي ته واستوي. هر کال سلګونه کډوال ماشومان د فرانسې په بېلابېلو ښارونو کې ښوونځی پیلوي. ځینې ماشومان بیا د کور د نه لرلو له امله د سړکونو پر سر شپې سبا کوي. که څه هم دغه ماشومان له سختو ستونزو سره مخ دي، خو ښوونځی د هغوی لپاره یو ښه چانس هم بلل کېږي. د پسرلي په را رسېدو سره د یادو ماشومانو شمېر کې ډېروالی راتلی شي.

لیندا* یوه له هغو ماشومانو ده چې سرپناه نه لري. په تېرو څو میاشتو کې دغه ۱۳ کلنه ماشومه ښوونځي ته د تګ لپاره له ګڼو ستونزو سره مخ شوې ده. د لیندا کورنی په ۲۰۱۹ کې د لیندا، د هغې ۳ کلنې خور او یو نیم کلن ورور سره یو ځای له انګولا څخه فرانسې ته راغله. خو سرپناه یې نه درلوده او د سړکونو پر سر شپې سبا کولې. دوی اوس د ېپولین سیمې په یو استوګنځي کې ژوند کوي.

لیندا ښوونځي ته د تګ لپاره ډېرې سختی ګاللي دي. ځینې ورځې وږې او ستړې وه. همټولګیانو ټوکې پرې کولې .لیندا په داسې یو هوټل کې اوسېده چې انټرنټ یې نه درلود او له ښوونځي نه هم لرې و .

خو لیندا سختیو ته تسلیمه شوې نه ده. هغې ته زدکړې لومړیتوب لري. لیندا چې په درسونو کې یې نمرې راټیټې شوې دي، وایي: «تمرین نه شم کولی، وخت نه لرم، ستړې یمه.» لیندا وایي چې څو کاله مخکې یې نمرې لوړې وې.

د ابتدایه ښوونځي په لومړیو ورځو کې لیندا له خپلې کورنۍ سره یو ځای د بوردو ښار د پناه غوښتونکو په یو مرکز کې اوسېده او د کډوالی چارو اداري د پرېکړې په انتظار وه. خو د اوفپرا اداري ځواب منفي و چې له امله یې د لیندا کورنۍ د مرکز پرېښودو ته اړ شوه .

لیندا او والدین یې تېر سپتمبر په دې هیله پاریس ته راغلل چې دلته سرپناه پیدا کړي. دوی به هره ورځ ۱۱۵ ته تلیفون کاوه ترڅو د شپې لپاره د خوب ځای پیدا کړي. لیندا وایي چې دوه یا درې شپې په هوټل کې سرپناه ورکول کېده. خو ډېرې وختونه یې تر خیمې لاندې شپې سبا کولې. هغه وایي: «هر سهار به کله چې له خوبه پاڅېدم، هوا ډېره یخه وه. جامې به مې اغوستې، غاښونه به مې برس کول او د ښوونځي پر لور به مې حرکت کاوه«.



لیندا او کورنۍ یې پر سړکونو شپې سبا کولې. انځور: اګات تروشون بارت، د فرنس مدیا موند ګرافیک استوډیو

تر ۱۶۰۰ ډېر سرپناه نه لرونکي ماشومان

د یونیسف او د پیوستون د فعالانو فدراسیون د وروستیو شمېرو له مخې، لیندا په فرانسه کې د هغو ۱۶۵۸ ماشومانو او کم عمر لرونکو کسانو په ډله کې راځي چې ثابته سرپناه نه لري. دا د هغو ماشومانو شمېر دی چې کورنیو یې د ۲۰۲۲ د اګست میاشتې په ۲۲مه ۱۱۵ ته تلیفون کړی و خو سرپناه ورته نه وه برابره شوې.



Website: https://morr.gov.af
Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

یونیسف په یوه خبرپاڼه کې وایي: «دا د ټولو سرپناه نه لرونکو ماشومانو شمېره نه دي ځکه چې ګڼ شمېر کورنۍ ۱۱۵ نه پېژني. همدارنګه دغه شمېرې د هغو کم عمر لرونکو او بې سرپرسته کسانو وضعیت نه انعکاسوي چې پر سړکونو شپې سبا کوي ...خو دا شمېرې ښيي چې ماشومان د سرپناه کړکېچ قربانیان دي«.

د سرپناه نه لرونکو ماشومانو په ډله کې ګڼ شمېر کډوال هم دي چې کورنۍ یې تازه فرانسې ته رسېدلې دي، دوسیې یې رد شوې دي او یا لا اسناد نه لري. په ښوونځي کې د تازه رسېدلو ماشومانو د شاملولو د مرکز مسول امانویل دشان وایي چې دوی دنده لري چې دغه ماشومان ډېر ژر ښوونځي کې شامل کړي.

د دغه مرکز څېړنې ښيي چې په تېرو څو وختونو کې د پاریس په ښوونځیو کې د کډوالو ماشومانو په شمېر کې زیاتوالی راغلی دی. د مرکز مشر وایي چې دغه زیاتوالی فرانسه کې د پناه غوښتونکو د شمېر له ډېروالي سره تړاو لري (په ۲۰۲۲ کې فرانسه کې د پناه غوښتونکو شمېر کې ۳۱ سلنه ډېروالی راغلی دی). ډېری غوښتنلیکونه په ایل دو فرانس کې ثبت شوې دي. همدا راز ډېری وختونه کورنۍ داسې ادرسونه لري (چې د اداري لیکونو د ترلاسه کولو لپاره د اړوندو ادارو له خوا کډوالو ته ورکول کېږي) چې د هغوی د ژوند اصلي مکان سره توپیر لري .

امانویل دشان وایي: «په پاریس کې ۱۰۰ زره ادرسونه شته چې ډېری یې ۱۸ او ۱۹مه ناحیو کې موقعیت لري.» هغه وایي چې دوی نه شي کولی چې د ټولو هغو کورنیو ماشومان د پاریس په ښوونځیو کې شامل کړي چې په ایل دو فرانس کې ژوند کوي.

د حل لاره موندل

په ښوونځیو کې زدکړیزې ډلې هڅه کوي چې د سرپناه نه لرونکو ماشومانو ستونزې هوارې کړي .

لیندا وایي: «هر سهار د ښوونځي مدیر او سرمعلم ما ته کېک ورکاوه ځکه چې وږې وم. دوی ما ته صابون هم ورکاوه ترڅو ځان ومینځم«.

د پاریس د ۱۵مې ناحیې په یوه ښوونځي کې چې څلور سرپناه نه لرونکي ماشومان هم پکې وو، د ښوونځي مدیرې د جامو، د لوبې توکو او د خوړو د راټولو لپاره یو مکانیزم جوړ کړی و. کډوال نیوز هڅه وکړه چې له یادې مدیرې څخه د مرستو د راټولو طریقې په هکله معلومات ترلاسه کړي، خو بریالی نه شو.

مارک آر د پاریس د ۱۸مې ناحیې په یوه ښوونځي کې درس ورکوي. هغه هڅه کوي چې له سرپناه نه لرونکو ماشومانو سره متفاوت چلند وکړي.




**د ماشومانو رواڼپوهه وايي چې ښوونځی یو حمایوي فکتور دی. انځور: اګات تروشون بارت، د فرنس مدیا موند ګرافیک استوډیو**

**تېر اوړی دوه نوي ماشومان دغه ښوونځي کې شامل شول. مارک آر وايي: «لومړي کس لا شاپل مترو ته نږدې تر خیمې لاندې ژوند کاوه... دويمه زده کوونکي د نومبر په میاشت کې له کامرون څخه فرانسې ته راغلي وه. پلار یې فرانسوی و نو هغه هم فرانسوی وه. نوموړي غوښتل چې د تل لپاره فرانسې ته راشي خو فرانسې ته له راتګ څو اونۍ مخکې وفات شو... کله چې نجلۍ او مور یې فرانسې ته ورسېدلې، سرپناه یې نه درلوده. دوی یو نیم کال د ګار دو نور اورګاډو تمځي کې اوسېدلې»..**

**په لومړیو ورځو کې یاده زده کوونکې له ډېرو سختیو سره مخ شوه. نوموړې چې ۸ کاله عمر یې درلود د خپل پلار د مړینې له کبله غمجنه وه .مارک آر وايي چې هغه ډېرې ستړې هم وه.**

**مارک آر د دغو دوو ماشومانو د ستونزو د هوارولو هڅه وکړه. هغه وايي: «موږ ورته کورنی دنده نه ورکوو، دواړو ته یې د لوستلو لپاره ځینې متنونه ورکوو. هڅه کوو چې دوی وکولی شي چې د لامبو حوض ته د ورتګ لپاره کافي وسایل ولري. داسې کاري ډېلې مې جوړې کړې ترڅو دوی وکولی شي چې له نورو ماشومانو سره ملګري شي».**

**مارک وايي چې د دغو دوو زده کوونکو لپاره ښوونځی داسې یو ځای دی چې دوی پکې د ماشومانو په توګه ژوند کولی شي .**

**ښوونځی او ملاتړ**

هالا کرباژ وايي چې ښوونځی د کډوالو ماشومانو لپاره ډېر مهم دی. د ماشومانو دغه روانپوهه چې د مونپلیي پوهنتوني روغتون کې کار کوي په منظمه توګه د هغو ماشومانو سره په تماس کې ده چې تازه فرانسې ته رسېدلي دي او د پناه غوښتنه يې کړې ده.

هغه وايي: «ښوونځی يو حمايوي فکتور دی. ماشومان کولی شي چې خپله لار پيدا کړي، له نورو سره يو ځای شي، ملګري ولري. ځيني ماشومان چې فرانسوي يې مورنۍ ژبه نه ده د ژبې له ستونزو سره مخ دي او يا له خپلې ټولنې څخه د لرې والي په خاطر د ادغام په برخه کې مشکل لري. خو بيا هم ښوونځی کډوالو ماشومانو ته ګټه لري«.

دغه ډاکټره وايي چې هغه ماشومان چې ثابته سرپناه نه لري ښوونځی د هغوی لپاره د ثبات او دوام عامل دی او د ماشومانو د پرمختګ په برخه کې ډېر مهم رول لوبوي.

خو له نورو سره اړيکه ټينګول د دغو ماشومانو لپاره ساده کار نه دی. ښايي هغه زده کوونکی چې له نورو سره توپير لري منزوي شي. ليندا وايي چې همټولیګي يې ټوکې پرې کوي ځکه چې هغه ښې جامې نه لري.

د ليندا همټولګي نه پوهيږي چې هغه څنګه ژوند لري. ليندا وېره لري چې دوی به يې يوه ورځ د ژوند پر حالت پوه شي .

ليندا وايي: «ځيني وختونه د خپل راتلونکي په اړه فکر کوم. فکر کوم چې له خپلو دوو ماشومانو سره په يو کور کې اوسېږم او کار لرم. زه غواړم چې نرسېنګ ووايم«.

## نږدې اتيا افغان او سوريايي کډوال له قبرس څخه فرانسې ته انتقال شوي

مهاجرنيوز




د قبرس د کورنیو چارو وزارت وايي چې د کډوالو د بیا مېشتېدو پروګرام په لړ کې یې ۷۶ افغان او سوریایي کډوال فرانسې ته لېږدولي دي.

د قبرس د کورنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې وايي چې د پنجشنبې په ورځ یې د کډوالو د بیا مېشتېدو پروګرام په چوکاټ کې ۷۶ افغان او سوریایي کډوال فرانسې ته لېږدولي دي .

په خبرپاڼه کې راغلي دي چې په راتلونکو میاشتو کې به نور کډوال هم د یاد پروګرام له لارې نورو اروپايي هېوادونو ته ولېږدول شي. په تېرو درېو میاشتو کې څه باندې ۲۱۰ کډوال له قبرس څخه جرمني، بلغاریا او رومانیا ته استول شوي دي.

بیا ولولئ :آلمان په لومړي ځل له قبرس څخه افغان او سوریایي مهاجر ومنل

یاد وزارت ویلي دي چې قبرس لومړنی اروپايي هېواد دی چې د خپل نفوس په تناسب یې د زیاتو پناه غوښتونکو دوسیې ثبت کړې دي.

د ۲۰۲۲ په جون میاشت کې ۲۱ اروپايي هېوادونو د یوې بیانیې په خپرولو سره د کډوالو د بیا مېشتېدو پروګرام او یا مالي مرستو له لارې د مدیترانې له هېوادونو سره خپل ملاتړ اعلان وکړ.

بیا ولولئ :اروپايي اتحادیه کې په پناه غوښتنه کې پر اصلاحاتو تفاهم رامنځته سو

د یادولو ده چې د روان میلادي کال له پیل راهیسي قبرس څه باندې ۲۰۰۰ کډوال چې د پناه غوښتنې دوسیې یې رد شوې وې اخراج کړي دي.

## دادگاه حقوق بشر اروپا ایتالیا را به دلیل «رفتار ناشایسته» با مهاجران محکوم کرد

مهاجرنیوز



دادگاه حقوق بشر اروپا ایتالیا را به دلیل رفتار ناشایسته با چهار مهاجر تونسی در لامپدوسا محکوم کرد. ایتالیا متهم شده است که این افراد را بدون «دلایل قانونی صریح «بازداشت و بدون «بررسی وضعیت انفرادی»، آن‌ها را به صورت گروهی اخراج کرده است.

دادگاه در حکمی که روز پنجشنبه صادر کرد حکومت ایتالیا را به پرداخت غرامت ۸۵۰۰ یورو جریمه نقدی به هریک از این مهاجران محکوم کرد.

چهار مهاجر تونسی در سال ۲۰۱۷ از این که ایتالیا با آن‌ها در جزیره لامپدوسا »رفتار ناشایسته و غیرانسانی» انجام داده و آنها را با زور در هواپیما به تونس پس فرستاده بود، به دادگاه حقوق بشر اروپا شکایت کرده بودند.

این مهاجران هنگام تلاش برای عبور از دریای مدیترانه، توسط یک کشتی ایتالیایی نجات و به جزیره لامپدوسا انتقال داده شده بودند.

به گفته دادگاه، حکومت ایتالیا اتهامات درباره شرایط زندگی و رفتار ناشایسته با مهاجران در لامپدوسا را رد نکرد؛ اتهاماتی که به گفته دادگاه «توسط منابع ملی و بین المللی» مورد تائید قرار گرفته‌اند.

بیشتر بخوانید :<u>دادگاه حقوق بشر اروپا یونان را در پرونده غرق شدن مهاجران در دریای اژه محکوم کرد</u>

دادگاه همچنین تصریح کرد که مقام‌های ایتالیایی نتوانستند ثابت کنند که قبل از اخراج مهاجران، روند معمول اداری را رعایت کرده‌اند. در این روند مهاجران نتوانسته‌اند علیه بازداشت غیرقانونی خود به دادگاه شکایت کنند.

دادگاه در حکم خود بر ممنوعیت اخراج گروهی مهاجران تاکید و یادآوری کرد که وضعیت انفرادی افراد مورد نظر به صورت جداگانه بررسی نشده است. دو تن از چهار مهاجر با حکمی اخراج شده‌اند که هیچگونه اطلاعات فردی مربوط به آن‌ها در آن درج نشده است.

این بار اول نیست که دادگاه حقوق بشر اروپا ایتالیا را محکوم می‌کند. سال گذشته نیز ایتالیا به دلیل جا دادن یک مهاجر ظاهراً زیرسن در کمپ بزرگسالان (در سال ۲۰۱۶) محکوم شده بود.

ایتالیا مبلغ ۷۵۰۰ یورو را به عنوان غرامت اخلاقی و ۴ هزار یورو را نیز به عنوان مصارف دادگاه به مهاجر گینه‌ای پرداخت.

جزیره لامپدوسا که در حدود صد کیلومتری شرق آب‌های تونس قرار دارد اولین گذرگاه ورودی مهاجران از افریقا به اروپا شمرده می‌شود. به گفته سازمان بین المللی مهاجرت، از آغاز سال ۲۰۲۳ تا کنون بیش از ۲۰ هزار مهاجر، بیشتر شان از طریق لامپدوسا، وارد ایتالیا شده‌اند. دستکم ۱۲ هزار تن از این مهاجران از تونس راه دریا را در پیش گرفته‌اند.

در همین باره :

<u>دادگاه اروپا هنگری را به پرداخت ۱۵ هزار یورو به یک خانواده افغان محکوم کرد</u>

## یران ۲۰ زندانی دیگر افغان را به افغانستان تحویل داد

آریانانیوز



**نمایندگی وزارت امور خارجه در ولایت نیمروز می‌گوید که ۲۰ افغان دیگر از زندان زاهدان ایران آزاد شدند.**

**ریاست اطلاعات و فرهنگ در نیمروز در خبرنامه‌ای گفته است که این افغان‌ها پس از آزادی به نمایندگی وزارت خارجه در شهر زرنج، مرکز ولایت نیمروز، تحویل داده شدند.**

**به گفته مسوولان، این افراد به دلیل نداشتن اسناد قانونی بازداشت شده بودند که در نتیجه تلاش‌های قنسولگری امارت اسلامی در شهر زاهدان ایران آزاد شدند.**

**مولوی صدیق‌الله نصرت، رییس امور مهاجرین و عودت‌کنندگان در نیمروز نیز از معرفی افغان‌های آزادشده به سازمان بین‌المللی مهاجرت به منظور دریافت کمک خبر داده است.**

**گفتنی است که در هفته‌های اخیر، صدها افغان از زندان‌های ایران و پاکستان آزاد و به امارت اسلامی تحویل داده شده‌اند.**